
قرآني بيان

# خپل نقصان كوونكي خلق

د مَدَني مركزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي)
لاندې جوماتونو د پاره

پهٔ 31 اكتوبر، كال 2025ء
(متوقع اِسلامي تاريخ: 8 جمادى الاولىٰ، كال 1447ھ)

د جُمعَةُ المبارک



د مَدَني مرکزونو (فيضانِ مدينه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي) لاندې جوماتونو د پاره

پهٔ 31 اکتوبر، کال 2025ء (متوقع اِسلامی تاريخ: 8 جمادی الاولیٰ، کال 1447ھ) د جُمعَةُ المبارک

قرآني بيان

پهٔ نوم

# خپل نقصان کوونکي خلق

پہ دې بيان کښې بہ تاسو زده کړئ...

- د خير نه خالي خلق
- ځناور پرې لعنت وائي---!!
- د تعلقاتو پريښودو سزا
- د صله رحمیٰ 10 فائدې

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ؕ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن ؕ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم ؕ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم ؕ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (**ترجمه:** ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

حضرت سَمُره رَضِیَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: مونږ په دربارِ رسالت کښې حاضر وو چې يو کَس حاضر شو او عرض يې اوکړو يَا رَسُولَ الله صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! **الله** پاک ته زيات نزدې اعمال څۀ دي؟ د **الله** پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وفرمائيل: رښتيا وئيل او امانت ادا کول- عرض اوکړے شو نور څۀ اِرشاد کړئ! اوئې فرمائيل: د تهجد نـمونځ او د ګرمۍ روژې، عرض يـې اوکړو: حضور څۀ نور اِرشاد کړئ! اوئې فرمائيل: د الله ذکر ډير ډير کول او په ما باندې درودِ پاک لوستل تنګدستي لرې کوي- **(1)**

| | |
|---|---|
| گر پڑھیں صدقِ دل سے، کافی ہے | جملہ حاجات کو درود شریف |
| پائیں گے چار پشت تک برکت | دل سے بھیجیں گے جو درود شریف **(2)** |

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْاٰنِ الْكَرِيْم (الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي):

---

[1]… القول البدیع، الباب الثانی من ثواب الصلاۃ علی رسول اللہ صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَآلِهٖ وَسَلَّم ...الخ، صفحه:135-

[2]… نورِ ایمان، صفحه:39-

اَلَّذِیۡنَ یَنۡقُضُوۡنَ عَهۡدَ اللّٰهِ مِنۡۢ بَعۡدِ مِیۡثَاقِهٖ ۪ وَ یَقۡطَعُوۡنَ مَاۤ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖۤ اَنۡ یُّوۡصَلَ وَ یُفۡسِدُوۡنَ فِی الۡاَرۡضِ ؕ اُولٰٓئِکَ هُمُ الۡخٰسِرُوۡنَ ﴿۲۷﴾ (پاره:1، سورۀ بقره:27)

صَدَقَ اللّٰهُ الْعَظِيْم وَصَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِيُّ الْكَرِيْم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! مونږ د وړومبۍ سيپارې د سورۀ بقره د آيت: 27 د اوريدو سعادت حاصل کړو، د دې نه پۀ مخکښني آيت مبارک کښې وئيلے شوي وو چې د قرآنِ کريم سره، پۀ قرآنِ کريم کښې د بيان کړے شوو مثالونو سره هر څوک هدايت نۀ مومي، ډير خلق د قرآنِ پاک پۀ مثالونو لوستلو اُلټا پۀ ګمراهۍ کښې زيات شي- هُغه کوم خلق دي څوک چې د داسې اوچتې مرتبې د هدايت د کتاب نه هم هدايت نۀ حاصلوي؟ پۀ دې آيت مبارک کښې د داسې بد بخته خلقو درې عيبونه بيانولے کيږي-

د دې نه وړاندې چې مونږ د آيت مبارک وضاحت واورو مونږ له يوه خبره ياد ساتل پکار ده چې دا درې عيبونه معمولي نۀ دي بلکې داسې خطرناک عيبونه دي کوم چې پۀ چا کښې بياموندے شي: (1): نو پۀ وړومبي نمبر باندې هُغه بنده د قرآنِ کريم پۀ شان د هدايت د کتاب نه هم هدايت نۀ بياموي، اُلټا پۀ ګمراهۍ کښې مخکښې لاړ شي او (2): پۀ دويم نمبر باندې داسې ګس د **اللّٰه** پاک د رحمت نه محرومه او سخت نقصان کوونکے هم دے- لهذا د قرآنِ کريم پۀ رڼا کښې مونږ له دا درې عيبونه پۀ توجه سره اوريدل پکار دي او ورسره دا پخه اِراده هم کول پکار دي چې مونږ به د دې دريو عيبونو نه هميشه ځان ساتو- راځئ چې د قرآنِ کريم د آيت د اوريدو او پۀ هغې باندې د ځان پوهه کولو سعادت حاصل کړو:

## د آیت مبارک مختصر وضاحت

**اللہ** پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| اَلَّذِیْنَ یَنْقُضُوْنَ عَهْدَ اللّٰهِ مِنْۢ بَعْدِ مِیْثَاقِهٖ۪ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: هغه خلق چې د الله وعده پس د پخیدلو نه ماتوي۔ |

**(1): دا وړومبے عیب دے:** د **اللہ** پاک سره وعده کول او ماتول۔ د **اللہ** پاک سره وعده څۀ ده؟ د دې د ماتولو څۀ مطلب دے؟ د دې یوه معنیٰ علمائے کرامو رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡهِم بیان کړې ده چې د **اللہ** پاک د وعدې نه مُراد دے: **د هغۀ احکام** او د هغۀ د وعدې د ماتولو مطلب دے: **د اللہ** پاک **نافرماني کول۔** [(1)] مثلاً **اللہ** پاک د نمونځ کولو حکم کړے دے نو نمونځ نۀ کول، **اللہ** پاک د روژې حکم کړے دے نو روژه نۀ نیول، دغه شان چې څومره نور احکام مونږ له راکړے شوي دي، هغه نۀ پوره کول، د څومره خبرو نه چې مونږ منع کړے شوي یو، د هغې نه نۀ منع کیدل د **اللہ** پاک سره د شوې وعدې ماتول دي۔ نور اِرشاد دے:

| | |
|---|---|
| وَ یَقْطَعُوْنَ مَاۤ اَمَرَ اللّٰهُ بِهٖۤ اَنْ یُّوْصَلَ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او هغه څیز پریکوي د کوم څیز د یو ځائے کولو چې الله حکم کړے دے۔ |

**(2): دا دویم عیب دے:** هره هغه رشته، هر هغه تعلق د کوم چې **اللہ** پاک د ساتلو حکم کړے دے، هغه ماتول۔ [(2)] مثلاً مونږ ته د مور او پلار سره د رشتې پاللو حکم دے، د مور او پلار سره تعلق پریښودل، د خوئیندو او وروڼو سره د نیک سلوک حکم دے، د هغوئي سره تعلق پریښودل، د نورو خپل خپلوانو مثلاً کشر ترۀ، مشر ترۀ، د پلار د طرفه د ترور، د مور د طرفه د ترور وغیره سره د تعلق ساتلو حکم دے، د هغوئي سره تعلق

---

1...تفسیر طبری، پارہ:1، البقرۃ، زیرِ آیت:27، جلد:1، صفحه:219 خلاصةً۔

2...تفسیر طبری، پارہ:1، البقرۃ، زیرِ آیت:27، جلد:1، صفحه:222221 خلاصةً۔

پرېښودل وغيره ټول په دې کښې شامل دي-

**(3):** او دريم عيب دے:

وَ یُفْسِدُوْنَ فِی الْاَرْضِؕ | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او په زمکه کښې فساد خوروي-

په زمکه کښې د فساد خورولو مختلف صورتونه دي، مختصر دا چې هر هُغه عمل، هر هُغه کار، کلام، حرکت کوم چې زمونږ په کور کښې، کوڅه کښې، محله کښې، معاشره کښې د خرابتيا سبب جوړ شي، داسې کار کول په زمکه کښې په فساد خورولو کښې شامل دے- مثلاً ❁ يو ګس ښکاره ګناه کوي، د هغهٔ په ليدو نور خلق هم د هغهٔ نقل کوي، دا هم په زمکه کښې د فساد يو صورت دے چې د دې په سبب خلق د ګناهونو طرف ته مائله کيږي ❁ هم داسې د اِسلام خلاف د خبرو تبليغ کول ❁ د سوشل ميډيا په ذريعه، د يوټيوب، واټس ايپ يا فيس بُک وغيره په ذريعه خلق د ګناهونو د پاره راغب کول ❁ په ذهنونو کښې خرابي پيدا کول ❁ خلق د الله او د رسول نافرمانه کول ❁ د نبيانو، وليانو د بے ادبئ د پاره لـمسول ❁ قتلونه ، ظلم زور وغيره کول يا ❁ د دې ترغيب ورکول وغيره ټول په زمکه کښې د فساد خورولو صورتونه دي-

دا ټول درې عيبونه شول: (1): د الله پاک نافرمانی کول (2): قطع رحمي کول (يعني د خپل خپلوانو سره تعلق پرېښودل) (3): په زمکه کښې فَساد خورول- په کوم بنده کښې چې دا درې عيبونه وي، د هغهٔ يوه سزا خو دا شوه چې داسې خراب ګس په ګمراهئ کښې اخته کيږي او دويمه سزا يـې دا ده چې

اُولٰٓىٕكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ(۲۷) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: نو هُم دغه خلق نقصان اوچتوونکي دي-

د خَاسِر لفظي معنیٰ ده: نقصاني- هُغه بنده کوم چې د خپلو اعمالو په وجه خپل ځان

د **اللّٰه** پاک د رحمت نه **محرومه** کړي، هغه ته خاسِر یعنې **نقصاني** وئیلے شي- [1] دا ډیره لویه **محرومي** ده- تاسو اندازه ولګوئ چې **اللّٰه** پاک رحمان دے، رحیم دے، کریم دے، ډیر مهربانه دے، د **حدیثِ پاک** مطابق د **اللّٰه** پاک 100 رحمتونه دي، په هغې کښې صرف یو رحمت په دې دُنیا کښې ظاهر شوے دے- مور د خپلو بچو سره، پلار د خپل اولاد سره، ورور، خور، خپل خپلوان په خپل مینځ کښې تر دې پورې چې مرغۍ د خپلو بچو سره کوم **محبت** کوي، هغه د **اللّٰه** پاک د دې یو رحمت په وجه دے او د قیامت په ورځ باندې به د **اللّٰه** پاک 100 واړه رحمتونه ظاهریږي- [2] د دومره زیاتو رحمتونو باوجود چې کوم بنده د رحمت نه **محرومه** شي، د دوزخ حق دار جوړ شي، هغه به څومره نقصاني وي- د چا چې د **اللّٰه** پاک رحمت هم نصیب نهٔ شي، هغهٔ ته به بل کوم ځائے کښې پناه میلاؤیږي؟ هغه به څنګه خپل ځان د دُنیا د ذِلت او د اخرت د عذاب نه بچ کړے شي؟ لهذا چې څوک **خاسِر** دے نو هغه په ډیر زیات نقصان کښې دے او د داسې ګس حیثیت څهٔ وي؟ په دې باره کښې یو روایت واورئ!

## د خیر نه خالي خلق

حضرت سعید بن جُبَیر رَحۡمَةُ اللهِ عَلَیۡه فرمائي: یو ځل بني اسرائیلو حضرت موسیٰ عَلَیۡهِ السَّلَام ته عرض اوکړو: چې **اللّٰه** پاک مخلوق پیدا کړے دے نو بیا به دوئي له عذاب ولې ورکوي؟

(دا ډیره اهمه پوښتنه ده، دلته هم خلق بعضې وخت داسې پوښتنې کوي چې **اللّٰه** پاک رحمان دے، د مور نه هم ډیر مهربانه دے نو خپلو بندګانو له به عذاب ولې ورکوي؟ د دې پوښتنې جواب واورئ!) چې کله بني اسرائیلو پوښتنه اوکړه نو **اللّٰه** پاک حضرت موسیٰ عَلَیۡهِ السَّلَام ته

---

1... تفسیر طبری، پاره:1، البقرة، زیرِ آیت:27، جلد:1، صفحه:222-

2... مسلم، کتاب التوبة، باب في سعة رحمة الله تعالیٰ...الخ، صفحه:1056، حدیث:2752-

وحي ولیږله، اوئې فرمائیل: اے موسیٰ! کرونده وکړه! حضرت موسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام کرونده اوکړه (مثلاً غنم یـې وکرل)- **الله** پاک وفرمائیل: اے موسیٰ! اوس دا وریبه! حضرت موسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام فصل وریبلو- بیا حکم وشو: داني او بوس بیل بیل کړه! حضرت موسیٰ عَلَیْهِ السَّلَام دا حکم هم پوره کړو- بیا حکم وشو: داني صفا کړه! داني صفا کړے شوې- بیا **الله** پاک وفرمائیل: اے موسیٰ! باقي څۀ پاتې شو؟ عرض وکړے شو: صرف بوس پاتې شو، پۀ کوم کښې چې هیڅ خیر نشته - **الله** پاک وفرمائیل: اے موسیٰ! دغه شان به زۀ هم پۀ خپل مخلوق کښې صرف هغوئي له عذاب ورکووم پۀ کومو کښې چې هیڅ خیر نۀ وي-[1]

اَللّٰهُ اَکْبَر! دا دے خاسِر بنده، نقصان کوونکے بنده، د **الله** پاک د رحمت نه **محروم** بنده---!! د دۀ حیثیت څۀ دے؟ دا د خالي بوسو پۀ شان دے، پۀ کوم کښې چې هیڅ خیر نشته- **الله** پاک دې مونږ د داسې نقصان نه بچ کړي! درې عیبونه دي کوم چې انسان داسې بے کاره جوړوي:

## (1): د الله پاک نافرماني

**وړومبے عیب دے**: د **الله** پاک نافرماني کول، هغه چې د څۀ د کولو حکم اوکړو، هغه نۀ کول، د څۀ د نۀ کولو حکم یـې چې کړے، پۀ هُغه کارونو کښې اخته کیدل- یاد ساتئ چې **د الله او د رسول نافرماني د ذِلت او رسوایۍ سبب دے**، کوم بنده چې د **الله** پاک نافرماني کوي، نۀ توبه کوي، د **الله** پاک طرف ته رجوع نۀ کوي، هغه د **الله** پاک پۀ بارګاه کښې ذلیله او رسوا کیږي او د **الله** پاک پۀ بارګاه کښې د هغۀ هیڅ حیثیت نۀ پاتې کیږي او کوم بنده چې د **الله** پاک پۀ بارګاه کښې ذلیله او رسوا شي، د چا چې د **الله** پاک پۀ بارګاه کښې څۀ حیثیت پاتې نۀ شي، د هغۀ پۀ یو ځائے کښې هم عزت نۀ نصیب کیږي- پۀ 17 سیپاره، سورۀ حج، آیت: 18 کښې اِرشاد دے:

---

1... حلیة الاولیاء، سعید بن جبیر، جلد:4، صفحه:316، حدیث:5701-

وَ مَنۡ یُّهِنِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنۡ مُّكۡرِمٍ ؕ (پارہ:17، سورۃالحج:18)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او چا لره چې الله ذليله کړي نو هغه ته هيڅ څوک عزت ورکوونکے نشته۔

پهٔ تفسير صِراطُ الـجنان کښې دي: معلومه شوه چې عزت او نوم پيدا کول د يو قوم يا ګس ميراث نهٔ دے چې که بنده هر څومره هم **خراب کارونه** کوي، خپله اعمال نامه د ګناهونو نه ډکه کړي، د هغهٔ کردار پهٔ نافرمانو باندې داغي شي، د هغې باوجود هغه د عزت ژوند تيروي--- نا! نا! داسې نهٔ ده بلکې څوک چې پهٔ خپلو اخلاقو او کردار سره، پهٔ نيک اعمالو سره، پهٔ خير خواهۍ او همدردۍ سره خپل ځان د عزت حق دار ثابت کړي، **الله** پاک هغه له عزت ورکوي او څوک چې پرله پسې پهٔ نافرمانو کښې اخته وي، **هغه د ذِلت ژورې کندې ته غورځولے کيږي۔** [(1)]

## څناور پرې لعنت وائي---!!

حضرت مُجَاهِد رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَيۡه فرمائي: کله چې قحط سخت شي، بارانونه نهٔ کيږي نو څناور پهٔ نافرمانه خلقو باندې لعنت وائي او وائي: **دا سوکړه د اِنسان د ګناهونو پهٔ وجه ده۔** [(2)]

اَللّٰهُ اَکۡبَر! اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د دې نه زيات ذِلت به نور څهٔ وي چې انسان اشرفُ المخلوقات دے خو چې کله دا ګناهونه کوي، د دوئي نافرمانۍ د حد نه زياتې شي نو څناور کوم چې زمونږ نه ډيرې درجې کمتر دي، هغه هم انسان ته بدې ردې وائي- معلومه شوه چې کوم خلق نافرمانه دي، د هغوئي نه **خپل فضيلت ځي او د انسانيت د درجې نه غورځيږي او د ذِلت ژورې کندې ته پريوځي۔**

---

1...تفسير صراط الجنان، پاره:17، سورۂ حج، زيرِ آيت:18، جلد:6، صفحه:418۔

2...تفسيرِ بغوى، پاره:2، سورۂ بقره، زيرِ آيت:159، جلد:1، صفحه:130۔

## پهٔ نافرمانو باندې د اللہ پاک لعنت

د حضرت وَهب رَحۡمَۃُاللّٰہِعَلَیۡہنه روايت دے چې **اللہ** پاک د بني اسرائيلو پهٔ انبيائے کرامو کښې يو نبي عَلَیۡہِ السَّلَام ته وحي وفرمائيله: بنده چې کله زما اطاعت کوي نو زهٔ د هغهٔ نه راضي کيږم او کله چې زهٔ د هغهٔ نه راضي شم نو هغه ته برکتونه عطا کووم- کله چې بنده زما **نافرماني** کوي نو زهٔ د هغهٔ نه **ناراضه** کيږم او کله چې زهٔ د هغهٔ نه ناراضه شم نو پهٔ هغهٔ باندې لعنت ورووم او زما **لعنت د هغهٔ 7 پيړو** ته رسي-[1]

| | |
|---|---|
| گر تُو ناراض ہوا میری ہلاکت ہوگی | ہائے! میں نارِ جہنّم میں جلوں گا یارَبّ! |
| عَفو کر اور سدا کے لئے راضی ہوجا | گر کرم کردے تو جنّت میں رہوں گا یارَبّ![2] |

## زړونه اړولے کيږي

**اے د خوږ نبي** صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** د **اللہ** پاک فضل دے، زمونږ د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کرم دے چې **اللہ** پاک د خپل خوږ محبوب صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ برکت د هغوئي اُمت نهٔ رسوا کوي، مونږ که ګناهونه هم کوو خو پهٔ مونږ باندې د مخکښينو قومونو پهٔ شان اِجتماعي عذابونه نهٔ راځي، زمونږه مخونه نهٔ ورانولے کيږي، دا اُمت د مخکښينو اُمتونو پهٔ شان شادوګان او خنزيران نهٔ جوړويږي خو ياد ساتئ چې د **اللہ** پاک د نافرمانی نتيجه خو بهر حال راوځي- علمائے کرام فرمائي چې د مخکښينو اُمتونو عذاب د وجود جسماني خَسف و مَسخ وو (يعني مخکښينو اُمتونو چې به نافرماني اوکړه نو هغوئي به پهٔ زمکه باندې راښکلے شول، د هغوئي مخونه به ورانولے کيدل، د چا نه به شادوګان

---

1...الزهد لامام احمد، زهد نوح عَلَیۡہِ السَّلام، صفحه:81، حديث:289-

2...وسائلِ بخشش، صفحه:85 ملتقطاً-

جوړيدې، د چا نه به خنزيران جوړيدل) خو د دې اُمت عذاب روحاني خَسف و مَسخ ده، مخکښې به وجودونه بدليدل، اوس زړونه بدليږي- [1] اللّٰه پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ نُقَلِّبُ اَفۡـِٕدَتَهُمۡ وَ اَبۡصَارَهُمۡ (پاره:7، سورةالاَنۡعَام:110) | ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او مونږه به د هغوئي زړونه او د هغوئي سترګې واړوو- |

د اللّٰه پاک پناه! د اللّٰه پاک پناه! **خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** ځکه غور اوکړئ چې په کوم بنده باندې د اللّٰه پاک لعنت وريږي، د کوم د پاره چې تر ځناورو پورې د لعنت وريدو دعاګانې کيږي ، د چا چې زړونه واړولے شي نو داسې ګس به د دُنيا د ذِلت او د اخرت د عذاب نه څنګه بچ شي؟ د هغه په زړه کښې به د عِلم نُور څنګه ځائے جوړ کړي؟ لهذا په مونږ ټولو باندې لازم دي چې د ګناهونو نه، د اللّٰه پاک د نافرمانو نه، د نمونځونو پريښودو نه، د جُمعې د قضا کولو نه، د سودي لين دين نه، د دروغو، غيبت، چغلۍ، وعده خلافی وغيره ګناهونو نه هر وخت ځان وساتو، د دې په برکت به اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِیۡم! زړه ته د ايمان نُور کوز شي، سينه به روښانه شي، بيا که اللّٰه پاک وغوښتل نو په سجدو کښې به مزه هم راځي او په تِلاوت کښې به هم زړه لګي- لهذا نن وخت دے، ښه دا دي چې نن بلکې هم اوس رښتوني توبه وکړو، ګناهونه پريږدو او پوخ نيت اوکړو چې ❁ بيا به ګناه نهٔ کوو ❁ بيا به زمونږ نه هيڅ يو نمونځ نهٔ قضا کيږي ❁ د رَمَضَانُ المُبَارَک روژې به هم پوره نيسو ❁ که زکوٰة فرض شوے وي نو هغه به هم پوره پوره ادا کوو ❁ په مخ باندې به د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنَّت بلکې د انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام سُنَّت يعنې ګيره مبارکه هم پوره يو موټے پريږدو ❁ د فلمونو ډرامو کتلو، د سندرو اوريدو په ځائے به په مَدَني چينل د عِلمِ دِين نه ډک پروګرامونه ګورو ❁ نعتونه به اورو ❁ تِلاوت به کوو او اورو به يې هم - اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ الۡکَرِیۡم!

---

1 ... تفسيرِ نعيمی، پاره:1، سورهٔ بقره، زيرِ آيت:66، جلد:1، صفحه:454۔

# تَوبه او اِستغفار د ښهٔ ژوند ذریعه ده

**اللہ** پاک پهٔ قرآنِ کریم کښې اِرشاد فرمائي:

وَّ اَنِ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْۤا اِلَيْهِ يُمَتِّعْكُمْ مَّتَاعًا حَسَنًا اِلٰۤى اَجَلٍ مُّسَمًّى وَّ يُؤْتِ كُلَّ ذِيْ فَضْلٍ فَضْلَهٗ ؕ وَ اِنْ تَوَلَّوْا فَاِنِّيْۤ اَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ كَبِيْرٍ ﴿۳﴾

(پارہ:11، سورۂ ھود:3)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: او دا چې د خپل رَبّ نه معافي غواړئ بیا د هغهٔ طرف ته توبه اوکړئ نو هغه به تاسو ته د یوې مقررې نیټې پورې ډیره ښه فائده درکړي او هر فضیلت والا ته به خپل فضل ورعطا کړي او که تاسو مخ واړوئ نو زهٔ پهٔ تاسو باندې د غټې ورځې د عذاب وِیره لرم۔

پهٔ **تفسیر صراط الجنان** کښې دي: پهٔ دې آیت کښې وفرمائیلے شو چې نبئ کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دې خلقو ته حکم اوکړي چې اے خلقو! د خپلو مخکښني ګناهونو معافي وغواړئ او د راتلونکو ګناهونو نه توبه وکړئ! چا چې د خپلو ګناهونو نه پخه توبه وکړه او پهٔ اِخلاص سره د خپل رَبِّ کریم عبادت ګزار بنده جوړ شو نو **اللہ** پاک به هغهٔ ته ډیر رزق او فراخه عیش عطا کړي او هغه به د امن او د خوشحالۍ والا ژوند تیروي، د هغهٔ نه به **اللہ** پاک راضي وي۔ او څوک چې توبه نهٔ کوي، پهٔ کُفر او ګناهونو باندې قائِم اوسي نو هغه به د ویرې والا ژوند تیروي، پهٔ بیمارو کښې به اخته وي او هغه به **اللہ** پاک د ناراضګۍ سره هم مخ کیږي، اګر که پهٔ دُنیا کښې د هغهٔ خوندونه نصیب هم شي نو بیا هم پهٔ هغه عیش کښې هیڅ خیر نشته د کوم نه پس چې دوزخ وي۔ (1)

1…تفسیر صراط الجنان، پارہ:11، سورۂ ھُود، زیرِ آیت:3، جلد:4، صفحہ:393۔

گناہ بے عدد اور جُرم بھی ہیں لاتعداد | مُعاف کردے نہ سہ پاؤں گا سزا یاربّ
میں کر کے توبہ پلٹ کر گناہ کرتا ہوں | حقیقی توبہ کا کر دے شَرَف عطا یاربّ (1)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللهُ عَلٰی مُحَمَّد

## (2): رشتې ماتول بد عیب دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دویم عیب کوم چې انسان د رحمت نه محرومه کوي او بالکل یې بے کاره جوړوي، هغه د رشتو ماتول دي- نن سبا خلق په وړه وړه خبره تعلقات پرېږدي، فلانکي ما ته د ځوي د وادۀ اونۀ وئیل، ځکه د هغه سره زما غم ښادي ختمه شوه---!! فلانکي کور ته وغوښتو او قدر مدار یې راله اونکړو، ځکه د نن نه د هغۀ سره زمونږ هیڅ تعلق نشته، فلانکي رشته دار زما د دُکان په ځائے په خوا کښې د بل دُکان نه سودا واخسته، ځکه د هغۀ سره زما خبرې اترې بندې، بلکل په وړو وړو خبرو غم ښادي ختمولے کشي (یعني رشتې ماتولے)شي حالانکې د کومو خپلوانو سره چې د صِله رحمی حکم دے یعني د خپلوانو سره د ښۀ سلوک کولو حکم دے، د هغوئي سره رشته ماتول، سخت د ګناه کار دے- په **حدیثِ پاک** کښې دي: څوک چې رشتې ماتوي، **الله** پاک هغه ماتوي- (2)

## د تعلقاتو پرېښودو سزا

حضرت یحيیٰ بن سُلیم رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: یو ګس کوم چې د خُراسان (اوسني اِیران د یوې صوبې) اوسیدونکے وو او هغه په مکه مکرمه کښې اوسیدو، خلقو به د هغۀ سره امانتونه کیښودول، یو ګس د هغۀ سره 10 زره اشرفۍ امانت کیښودې او د خپل څۀ

---

1...وسائل بخشش، صفحه:78-

2...ابو داؤد، کتاب الزکاة، باب صلة الرحم، صفحه:276، حدیث:1694 خلاصةً-

ضرورت د پاره پهٔ سفر باندې لاړو، کله چې هغه واپس راغلو نو خراساني وفات شوے وو، د هغوئي د کور والؤ نه يې د امانت پهٔ باره کښې پوښتنه اوکړه نو هغوئي د لا علمۍ اظهار اوکړو، امانت کېښودونکي د علمائے کرامو نه پوښتنه اوکړه چې ما له څهٔ کول پکار دي؟ هغوئي ورته ووئيل چې مونږ اُميد کوو چې هٔغه خُراساني به جنّتي وي، تهٔ داسې اوکړه چې د نيمې شپې يا د شپې د دريمې حصې د تيريدو نه پس د زمزم کوهي خوا له لاړ شه او د هغهٔ نوم واخله او اواز ورکړه او د هغه نه پوښتنه اوکړه- هغه درې ورځې داسې اوکړل، د هلته نه هيڅ جواب رانغلو، هغه بيا لاړو او علمائے کرامو ته يې ووئيل، هغوئي اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّآ اِلَيْهِ رٰجِعُوْن ولوستل او اوئې وئيل چې زمونږ سره ويره ده چې کيدے شي هغه جنّتي نهٔ وي، تهٔ يمن ته لاړ شه هلته بَرهُوت نومې يوه دَره کښې يو کوهے دے، هلته چې ورسيږې نو داسې اواز اوکړه، هغه هم داسې اوکړل نو هم پهٔ وړومبي اواز کښې جواب ورکړے شو چې ستاسو امانت مې د کور پهٔ فلانکي ځائے کښې ښخ کړے دے، هٔغه ځائے چې وکنې نو ستا مال به ميلاؤ شي- د مال د پتې معلومولو نه پس امانت کېښودونکي د هٔغه خُراساني نه پوښتنه اوکړه چې: تهٔ خو ډير نيک اِنسان وې نو دلته څنګه راورسيدې؟ هغه ووئيل: زما ځيني خپلوان پهٔ خُراسان کښې وو د کومو سره چې ما رشته پريښودې وه، پهٔ داسې حالت کښې زهٔ مړ شوم، د دې پهٔ سبب **الله** پاک ما له دا سزا راکړه او دې مقام ته يې را اورسولم- [1]

## فوراً يـې د ترور سره صلح وکړه

حضرت ابو هريره رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ صحابئ رسول دے- هغوئي به خلقو له دَرس ورکولو، يوه ورځ هغوئي خلقو ته حديثونه مبارک بيانول، پهٔ دې کښې يې وفرمائيل: **هر قاطِعِ رحم (يعني خپلولۍ ماتوونکے) دې زمونږ د محفل نه لاړ شي-** يو ځلمے پاسيدو او د خپلې [د پلار

---

1 ...تنبيه الغافلين، باب صلة الرحم، صفحه:7473 خلاصةً-

د طرفه د] ترور کره لاړو د کومې سره چې د هغه د ډيرو کلونو نه ورانه وه، معافي يـې ترينه وغوښتله او ترور يـې رضا کړه- کله چې دواړه راضي شول نو ترور يـې ووئيل: څويه! تهٔ لاړ شه او د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه د دې د سبب پوښتنه اوکړه چې اخر داسې ولې وشول؟ (يعنې د ابو هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ د اعلان څهٔ حکمت دے؟) ځلمے حاضر شو او چې کله يـې پوښتنه اوکړه نو حضرت ابو هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ وفرمائيل چې ما د دواړو جهانو د آقا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه اوريدلي دي: **پهٔ کوم قوم کښې چې قاطِعِ رحم ( يعنې خپلولۍ ماتولو والا) وي، پهٔ هٰغه قوم باندې د اللّٰه پاک رحمت نهٔ نازليږي-** (1)

## د رشتې د ماتوونکي سپيرۀ والے

اللّٰه! اللّٰه! غور وکړئ چې صحابئ رسول دے، د خلقو پهٔ مينځ کښې تشريف فرما دے او څهٔ بيانوي؟ د دواړو جهانو د رحمت صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارک حديثونه---!! چې پهٔ داسې محفل باندې هم رحمتونه نهٔ نازليږي نو بيا به چرته نازليږي خو د حضرت ابو هريره رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ سره ويره شوه چې هسې نهٔ چې پهٔ دې محفل کښې چرته څوک رشته پريکوونکے وي او مونږه د هغهٔ پهٔ وجه د رحمت نه محرومه پاتې شو---!!

دا دے د رشتې د ماتوونکي سپيرۀ والے---!! دلته غور وکړئ چې پهٔ کوم کور کښې رشته ماتوونکے وي، پهٔ کومه کوڅه، پهٔ کومه محله کښې اوسيږي، پهٔ هٰغه کور، پهٔ هٰغه کوڅه او محله باندې به رحمتونه څنګه نازليږي---؟ او څوک چې پخپله رشته ماتوونکے دے نو د هغهٔ پهٔ زړهٔ کښې به د رحمت نه ډک کلام قرآنِ کريم څنګه راځائے کيږي؟ ځکه پهٔ مونږ ټولو باندې لازم دي چې مونږه د رشتې ماتولو نه پخه رښتوني توبه وکړو، که د يو رشته دار سره پهٔ څهٔ دنيائي وجه خفګان وي نو هم نن د د هغوئي کور ته لاړ شو، که داسې

1…الزواجر، جلد:2، صفحه:137136-

نشو کولے نو فون ورته اوکړو یا په څهٔ طریقه د هغهٔ سره صلح اوکړو- په صلح کولو کښې چې د تږولو نه کوم غټ خنډ [یعني رکاوټ] دے، هغه زمونږه اَنَا ده- دا اَنَا یو طرف ته کړئ! که ستاسو غلطي نهٔ وي نو هیڅ خبره نهٔ ده بیا هم سر ټیټ کړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیم! ثواب به مو کیږي-

## پهٔ حق باندې د کیدلو باوجود د جګړې پریښودو فضیلت

د اللّٰه پاک د اخري نبي صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې پهٔ حق باندې وي او جګړه ختمه کړي زهٔ د هغهٔ د پاره د جنَّت پهٔ غاړه د یو کور ضمانت ورکووم- (1)

## فلانکي زما سره ډیر زیاتے کړے دے

کله چې د رشتې د جوړولو، د جنګ جګړو او د خفګانونو د ختمولو خبره وي نو خلق عام طور کیلې کوي چې فلانکي زما سره داسې اوکړل، هغه ما ته دا خفګان راورسولو، هُغه ظُلم یې اوکړو، زهٔ به خپل هُغه غمونه څنګه هیر کړم، هغه څنګه معاف کړم---؟

د داسې اِسلامي ورونړو نه یوه پوښتنه ده؟ ستاسو د خبرې مطابق فلانکي ستاسو سره ډیر ظُلم کړے دے، ډیر زیاتي یې درسره کړي دي، لږ ووایئ چې آیا هغوئي تاسو کوهي ته غورځولي یئ؟ آیا د هغوئي پهٔ وجه تاسو د خپل مور او پلار نه جدا شوي یئ؟ آیا د هغوئي پهٔ وجه تاسو پهٔ بازار کښې خرڅ کړے شوي یئ؟ آیا د هغوئي پهٔ وجه تاسو بر ناحقه جیل تیر کړے دے؟ دا هر څهٔ د حضرت یُوسُف عَلَیْهِ السَّلَام ورونړو د هغوئي سره کړي وو- د دې باوجود چې کله هُغه ورونړه د حضرت یُوسُف عَلَیْهِ السَّلَام مخې ته راغلل نو هغوئي څهٔ وئیلي وو؟

قَالَ لَا تَثْرِیْبَ عَلَیْكُمُ الْیَوْمَ ؕ
(پاره:13، سورهٔ یوسف:92)

ترجمهٔ کنزُالعِرفان: نن پهٔ تاسو هیڅ ملامتیا نشته-

---

1 ... ابو داؤد، کتاب الادب، باب فی حسن الخلق، صفحه:755، حدیث:4800-

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے---!! د حضرت یُوسُف عَلَیْهِ السَّلَام ورونړو وروستو توبه کړې وه، هغوئي ټول د یو نبي حضرت یعقوب عَلَیْهِ السَّلَام ځامن او د یو نبي حضرت یُوسُف عَلَیْهِ السَّلَام ورونړه او ټول وَلیان وو خو غور اوکړئ چې هغوئي حضرت یُوسُف عَلَیْهِ السَّلَام ته څنګه څنګه غمونه رسولي وو، د دې باوجود د حضرت یُوسُف عَلَیْهِ السَّلَام کمال اخلاقو ته اوګورئ! د هغوئي سره طاقت وو، هغوئي د مِصر عزیز (یعني د مِصر بادشاه) وو، که هغوئي غوښتلے نو د هغوئي نه یـې بدله اخستے شوه خو حضرت یُوسُف عَلَیْهِ السَّلَام هغوئي معاف کړل۔

څکه مونږ ته هم هِمت کول پکار دي! نن چې همت اوکړئ، خپله اَنَا ختمه کړئ، د صبر نه کار واخلئ او خفګانونه ختم کړئ، د صلح طرف ته لاړ شئ نو اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم! د دِین او د دُنیا خیرونه به مو نصیب شي۔

## د صِله رحمۍ 10 فائدې

حضرت ابو اللَّیث سمر قندي رَحْمَةُ اللهِ عَلَیْه فرمائي: د صِلَهٔ رحمۍ کولو 10 فائدې دي: (1): د الله پاک رضا حاصلیږي (2): د خلقو د خوشحالۍ سبب دے (3): فرښتے پرې خوشحالیږي (4): د مسلمانو د طرف نه د هغه ګس تعریف کیږي (5): شیطان ته پهٔ دې باندې تکلیف میلاؤیږي (6): عمر ورسره زیاتیږي (7): پهٔ رِزق کښې برکت راځي (8): وفات شوي مسلمانان پلار نیکونه خوشحالیږي (9): پهٔ خپل مینځ کښې محبت زیاتیږي (10): د وفات نه پس د هغهٔ پهٔ ثواب کښې اضافه کیږي، څکه چې خلق د هغهٔ پهٔ حق کښې د خیر دعاګانې کوي۔ [1]

الله پاک دې مونږ ته د صِله رحمۍ کولو، د رشتو جوړولو، د خلقو سره د نیک سلوک

1...تَنبِیهُ الغافِلِین، باب صلة الرحم، صفحه:74۔

کولو والا د جوړېدو توفيق راعطا کړي- د صِله رحمی د نور ذهن جوړولو او د دې د فضيلتونو او فائدو وغيره د تفصيلي معلوماتو د پاره د اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد اِلياس قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه ډيره ښکلې او مختصر شان رساله **ہاتھوں ہاتھ پھوپھی سے صلح کرلی** ولولئ!

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## (3): پۀ زمکه کښې فساد جوړول

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** انسان د رحمت نه محرومه کوونکے او بے کاره کوونکے **دريم عيب** دے: پۀ زمکه کښې فساد جوړول- د دې ډير صورتونه دي، قتلونه کول، لوټ مار کول، غلاګانې کول، کنځلې کول، جګړې کول، د تاوان د پاره اغوا کول، دوکه ورکول، پۀ ناپ تول کښې کمے کول، نفرتونه پيدا کول وغيره ټول پۀ زمکه کښې د فساد جوړولو صورتونه دي او پۀ دې کښې يو خطرناک صورت د ګناهونو نه رواج جوړول هم دي-

عام طور ټول خلق قتلونه او خونريزي ، لوټ مار او غلا نۀ کوي، داسې ظالمان خلق پۀ زرو کښې يو څو وي خو ګناهونه رائج کول يا د دې سبب جوړيدل، د ګناه يا د ګناه موقعې ايجاد کول عام موندلے کيږي ✿ چې پلار پۀ کور کښې سندرې اوري نو آيا د هغۀ اولاد به سندرې نۀ اوري؟ ✿ پلار ورته پۀ کور کښې د ګناهونو نه ډکې چينلې لګولې وي ✿ د انټر نيټ د استعمالولو يې ورته پوره ازادي ورکړې وي، پخپله هم انټرنيټ غلط استعمالوي او اولاد له هم موقعې ورکوي، آيا دا د ګناهونو د رائج کولو صورتونه نۀ دي؟ ✿ هم داسې ښکاره ګناه کول او هغې له د فيشن نوم ورکول، څوک چې دغه ګناه نۀ کوي، هغه له پيغورونه ورکول، پۀ هغه پورې ټوقې کول ✿ د دوستانو پۀ مخکښې ګناه کول او هغوئي له د دې عملي ترغيب ورکول، پريږده مره اوس د نيکۍ زمانه نۀ ده! ✿ د دروغو نه بغير اوس ګزاره نۀ کيږي ✿ چې د سود لين دين نۀ کوو نو آيا د لوږې نه ځان مړ کړو؟

❁ د بره نه تر بشکته پورې پۀ هر ځائے کښې سود دے، مونږه د دې نه ځنګه بچ کیدے شو؟ ❁ نن سبا پۀ دوکه کار چلیږي، چې دومره ربښتونے جوړ شي نو رزق به د کوم ځائے نۀ ګټي وغیره وغیره جملې دلته وئیلے کیږي، پۀ داسې قِسمه جملو وئیلو باندې خلق پۀ ګناهونو باندې راپارولے کیږي، دا هم د ګناهونو د رائج کولو یو شکل دے ❁ داسې د ټي وي چینل، یوټیوب، فیس بُک، سوشل میډیا وغیره پۀ ذریعه باندې ګناهونه مشهورول، د دې ترغیب ورکول، بے پردګي، پۀ چا پورې خبرې کول، ټوقې ټقالې کول، سندرې سازونه وغیره د ماډرن زمانې ضرورت ګرځول وغیره دا ټول د ګناهونو د رائج کولو صورتونه دي کوم چې زمونږه پۀ معاشره کښې عام دي۔

## پۀ زمکه کښې فساد مۀ جوړوئ---!!

اللّٰه پاک پۀ قرآنِ کریم کښې فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَلَا تُفْسِدُوْا فِی الْاَرْضِ بَعْدَ اِصْلَاحِهَا (پاره:8، سورۂ الاعراف:56) | ترجمۂ کنزُالعِرفان: او پۀ زمکه کښې د هغې د اِصلاح نه پس فساد مۀ جوړوئ۔ |

یعني اللّٰه پاک رسولان راولیږل، د شریعت احکام بیان کړے شو، د نیک کارونو دعوت ورکړے شو، د ګناهونو نه منع کړے شو، اوس پۀ ګناه او سرکشئ کولو، نور د ګناهونو طرف ته پۀ رابللو پۀ زمکه کښې فساد مۀ جوړوئ! (1)

## د خیر او د شَر کُنجیانې

د رسول اللّٰه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خادم، حضرت اَنَس بن مالِک رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روایت دے، د اللّٰه پاک اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: بے شکه پۀ خلقو کښې څۀ خلق دي کوم چې د خیر کُنجیانې دي او د بدئ تالې دي او بعضې هغه

1 ... تفسیر مظهری، پاره:8، الاعراف، زیر آیت:56، جلد:3، صفحه:41 ملتقطاً۔

خلق دي کوم چې د بدۍ کنجیانې دي او د خیر تالې دي، بس زیرے دے د هٰغه ګس د پاره د چا په لاس کښې چې **الله** پاک د خیر کنجیانې کیښودې دي او هلاکت دے د هٰغه ګس د پاره د چا په لاس کښې چې **الله** پاک د بدۍ کنجیانې کیښودې دي۔ [1]

په دې **حدیثِ پاک** کښې د دوه قِسمه خلقو ذِکر دے: **(1):** هٰغه ګس کوم چې د خیر کنجي او د بدۍ تالا ده۔ عَلَّامه مُناوي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه فرمائي: د دې ګس دا شان دے چې د هغهٔ په لیدلو خلقو ته نیکي رادیاېږي، دا چې چرته هم ځي، نیکۍ کوي، چې خبرې کوي نو د خُلې نه یې د نیکو خبرې ووځي، چې سوچ کوي نو د نیکۍ د خبرې سوچ کوي، د هغهٔ باطِن هم په نیکۍ باندې وي تر دې پورې چې کوم بنده د هغهٔ په صحبت کښې کښیني، هغه هم نیک جوړ شي۔ [2] **(2):** او بَل هٰغه ګس دے کوم چې د بدۍ کنجي او د خیر تالا ده یعني دا د وړومبي نه بالکل اُلټا دے، دا چې چرته هم ځي، د بدۍ جرړه وي، د دهٔ د خُلې نه بد ووځي، د دهٔ د لاس نه بدي ظاهرېږي، د دهٔ سوچ هم د بدۍ وي، غرض دا چې دا ېخپله هم بد دے او نورو ته هم بدي رسوي۔

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** دا دوه قِسمه خلق دي، کوم چې د نیکۍ کنجي ده (یعني نیکۍ کولو والا او نیکو خورولو والا دے)، د هغه د پاره زیرے دے او کوم چې د بدۍ کنجي ده (یعني ېخپله هم بد دے او هم بد خوروي، د هغهٔ د عمل نه، کردار نه، د خبرو نه د نورو د بدۍ ترغیب میلاؤیږي)، د دهٔ د پاره هلاکت دے۔ اوس دې مونږه غور اوکړو چې مونږه په کومو کښې شمیرلے کیږو، مونږ ته چې وګوري نو خلق بدي زده کوي که زمونږه په ذریعه خیر خورېږي؟ که مونږ د هلاکت نه بچ کیدل غواړو، د **الله** پاک په حُضُور، په خپل کور کښې، په معاشره کښې خپل ځهٔ عزت جوړول غواړو نو دې د پاره د خپل ژوند یو اُصُول

---

1... جامع صغیر، صفحه:210، حدیث:2465۔

2... فیض القدیر، جلد:2، صفحه:528، زیرِ حدیث:2465۔

جوړ کړئ چې ستاسو په ذريعه چرې هم، چا ته هم، هيڅ قِسمه هم د بدۍ ترغيب ميلاؤ نشي، ستاسو خبرې، ستاسو عمل، ستاسو کردار، ستاسو هوښيارتيا، ستاسو انداز، طور طريقې صرف او صرف د خير وي-

***Don't be the key to evil be a lock***

د بدۍ کُنجي نۀ بلکې تالا جوړه شئ!

## د بيان خُلاصه

د کلام خُلاصه دا ده چې هُغه خلق کوم چې پۀ قرآنِ کريم لوستلو هم هدايت نۀ حاصلوي، کوم چې نقصان کوونکي دي، د **الله** پاک د رحمت نه **محرومه** پاتې کيدونکي دي، د هغوئې درې لوئې عيبونه دي: (1): د الله پاک نافرماني کوي (2): خپلوي پريږدي (3): پۀ زمکه کښې فساد جوړوي- مونږ اَلْحَمْدُلِلّٰه! مسلمانان يو، د رسولِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کلمه لوستونکي يو، مونږ له د دې دريو واړو عيبونو نه بچ کيدل دي، که چرې دا اوکړو نو اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! د **الله** پاک د رحمت حق دار به جوړ شو، زړۀ به مو روښانه شي، زړۀ ته به مو د اِيمان نُور کوز شي او که **الله** پاک وغوښتل نو زړۀ به مو پۀ نيغه لار باندې وي- **الله** پاک دې مونږ ټولو ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي-

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم-

صَلُّوا عَلَی الْحَبِيب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## دارُ الاِفتاء اهلسُنَّت ايپلي کيشن

د دعوتِ اِسلامي د عِلمِ دين پۀ فيضان عام کولو کښې مصروف دے، د دعوت اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې دے:

***Darul Ifta Ahlesunnat*** (دار الافتاء اهلسنت)۔

دا ایپلي کیشن پهٔ **Android** او **IOS** نه پهٔ اسانۍ سره ډاؤن لوډ کیدے شي، پهٔ دې موبائل ایپلي کیشن کښې ❀ پهٔ مختلفو موضوعاتو باندې د پوښتلے شوو سوالونو جوابونه پهٔ آډیو، ویډیو او لیکلي شکل کښې موجود دي ❀ د تجارت احکام ❀ فرض علوم کورس ❀ او تجارت کورس هم پهٔ دې ایپلي کیشن کښې شامل دے۔

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د بیان پهٔ اخره کښې راځئ چې یوه شرعي مسئله زده کړو:

## صحیح څهٔ دي؟

(د صحیح شرعي مسئلې یا پهٔ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پهٔ ګوته کول)

**مسئله:** د ماسختن د نمونځ پهٔ وترو کښې هُم مشهور دعائے قنوت لوستل سُنَّت دي۔

**وضاحت:** دا مسئله لږ وضاحت غواړي، پهٔ توجه سره پرې ځان پوهه کړئ! د وترو د نمونځ پهٔ دریم رکعت کښې پهٔ قیام کښې، د قراءَت نه پس چې کله مونږ تکبیر ووایو او لاسونه پورته کړو او بیا یې وتړو، د دې نه پس دُعا لوستل واجِب ده۔ پهٔ دې موقع باندې چې مونږه کومه دُعا هم (پهٔ عربۍ کښې) ووایو نو واجِب به ادا شي۔ البته! خاص دُعائے قنوت (یعنې د اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِيْنُكَ والا دُعا) لوستل سُنَّت ده۔ [1] دلته پهٔ دې باره کښې څهٔ غلط فهمۍ دي۔ بعضې خلق کومو له چې دُعائے قنوت نهٔ ورځي، هغوئي پریشانه کیږي چې وِتر به څنګه ادا کوي، د هغوئي د پاره عرض دے چې د دې پهٔ ځائے که هره یوه دُعا ولوستلے شي یا درې کرته اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِی هم ولولې نو بیا به هم واجِب ادا شي۔ [2] د دې سره

1 ... ردالمحتار علی الدر المختار، کتاب الصلاة، جلد:2، صفحه:200۔

2 ... فتاوٰی رضویه، جلد:7، صفحه:485۔

دا هم یاد ساتئ چې د دې عادت جوړول او اصلي چې کومه دُعائے قنوت ده هغه بالکل نهٔ یادول دا صحیح نهٔ دي ځکه چې پهٔ وِترو کښې پهٔ دې ځائے کښې خاص هم هٰغه دُعائے قنوت یعني اَللّٰھُمَّ اِنَّا نَسْتَعِیْنُکَ والا دُعا لوستل سُنَّت ده۔

**الله** پاک دې مونږ ته د صحیح اِسلامي احکامو د زده کولو او پهٔ هغې باندې د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔ اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

## د اَسمَاءُ الـحُسنیٰ برکتونه (وظیفه)

## یَا وَاسِعُ

څوک چې لږم وچیچي هغه دې 70 کرته یَا وَاسِعُ ولولي او دم دې یې کړي، اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیم! زهر به اثر نهٔ کوي۔ [1]

**الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

---

1 ...مدنی پنج سورہ، صفحہ:252۔